مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنگروال ۲۰۱۹/۰۹/۰۳

# غـزل

له شړيدلي ځانه څه غواړې نور
تنې، تنې ګريوانه څه غواړې نور

په توده ځمکه پښتانه سوځيږي
راشه د خير بارانه څه غواړې نور

اوس د زقومو په خوند شكر باسم
له ترخو ډک اسمانه څه غواړې نور

بې داره زانګمه د مرې په شان
د پاتې ژوند ارمانه څه غواړې نور

پرهر ژور شو ترې ناسور جوړ شوی
د بې وسی درمانه څه غواړې نور

نور د افغان د وينو ښباک ودروه
بس كه خونخور انسانه څه غواړې نور

د پسرلي ورځې تيارو وخوړې
د وحشت تور زندانه څه غواړې نور

مصطفی پسرلی
03/09/2019



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ